# د عالم فضيلت پر عابد داسې دی لکه زما فضيلت ستاسو پر يو عادي انسان

د ابو امامه الباهلي رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله  ته دوه کسان ياد شول چې يو يې عابد او بل يې عالم و، نو رسول الله  وفرمايل: «د عالم فضيلت پر عابد داسې دی لکه زما فضيلت ستاسو پر يو عادي انسان" بيا رسول الله  وفرمايل: "خامخا الله جل جلاله، ملايکې، د آسمانونو او ځمکو ټول خلک، حتی مېږی په ځاله کې او ماهي ټول د هغه ښوونکي لپاره د خير دعا کوي چې خلکو ته خير رسوي».

[حسن لغيره دی] [الترمذي روايت کړی دی]

رسول الله  ته د دوو کسانو يادونه وشوه چې يو يې عابد (عبادت کوونکی) او بل عالم دی چې کوم يې غوره دی؟ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: په شرعي علومو پوه عالم چې په علم عمل کوي او نورو ته يې ښيي، پر هغه تن چې يوازې عبادت کوي او د علم په اړينو مسايلو پوه وي دومره فضيلت لري لکه څومره چې رسول الله  پر عادي صحابه کرامو درلود. بيا رسول الله  د دې سبب بيان کړ چې ولې د عالم مقام لوړ دی: ځکه چې الله تعالی، د الله تعالی هغه ملايکې چې عرش يې پر اوږو دی او د اسمانونو ټولې ملايکې، او د ځمکې ټول انسانان، پېريان او حيوانات—حتی مېږی په خپله ځاله کې او ماهيان په سمندر کې— ټول د هغه چا لپاره دعا کوي چې خلکو ته د دين علم ورزده کوي، ځکه په همدې علم کې د خلکو نجات او برياليتوب دی.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6106

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee